درویش وردک

۰۳ اپریل ۲۰۱۶

## دوه ویشتم مجلس(له زړه څخه د دنیا دحب ایستل)

د ۵۴۵ هجری قمری کال ذی القعدی دوروستی ورځی په سهار بزرګوارشیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) په خانقاکی داسی وفرمایل:

چاوپوښتل څرنګه ددنیا مهراومحبت له زړه وباسم؟ وویل: ددنیا دارانو اوارباباناحوال ته کتنه وکړه اود هغو بدلونونو اوتحولاتوته وګوره. وګوره چی څرنګه په دوی لاس بری شوی، اوتدریجا دوی مطلوبو مقاماتواومراتبوته رسوی، په دوی مسلط کیږی، ددنیا خزانی اوعجایب یی ورته ښکاره کوی اودوی په عین غفلت کی په دی مقام اومنزلت سره خوشحاله کیږی،نابیره دقهراوغضب خپله څیره ورته ښییی اودوی تری اودخپلی جفاغیشوته یی په نښه کوی، اوله هغه لویی اولوړمقام څخه یی را کښته کوی اوهلاک کوی یی، پداسی حال کی چی خپله سره له شیطانه ورته ګوری اوده په حماقت پوری خندا کوی. دا ددنیا لاره ده چی دآدم علیه السلام څخه یی بیا ترننه بدایان اوسلاطین دخپل ځان بازیچه ګرزولی، اودا روش به ترقیامته پوری دوام ولری. لومړی لوړوالی وربخښی اوبیا یی له ځمکی غوزاروی. اول یی مخکی اچوی بیایی شاته غورځوی، اول یی بدای کوی اووروسته یی تنګدستی ته اړکوی، اول په محبت سره ورنیږدی کیږی، وروسته یی وژنی. په ډیر ندرت سره به ددنیاڅخه څوک ژغورل شوی وی اوپری لاس بری شوی به وی،اوله شره به یی په امان پاته وی. یوازی هغه چا چی په ریښتینی وپیژنده، له ګزنده به یی پرهیزوکړی اوله نیرګونو به یی لیری پاته وی.

ای پوښتونکیه! که دزړه اوباطن په سترګوددنیا بدیو ته وګوری، نووبه توانیږی چی هغه له زړه وباسی، اوکه دبدن په سترګو ورته وګوری، په ظواهروبه یی بوخت شی، اودعیبونو له پیژندنی به یی ناتوانه شی اونوربه یی دزړه څخه په ایستلو ونتوانیږی، اونشی کولای تری جلاشی، ترڅوچی دنورو په شان نابود اوهلاک شی.

پس باید له نفس سره مبارزه وکړی اوپه دی لاره کی په مجاهده سره کولای شی هغه اطمینان اوآرامش ته ورسیږی، ځکه هرکله که دمطمئنه نفس خاوندشی، نووبه کولای شی چی ددنیا عیبونه ووینی، اوله هغو پرهیزوکړی. دنفس آرامش دزړه اوباطن څخه په پیروی کی دی.

پس باید له هغو(زړه اوباطن) څخه اطاعت وکړی، داوامرو اونواهیوپروړاندی یی باید رام اومطیع واوسی. هرکله که نفس دی مقام ته ورسید، دتقوی تاج به یی په سر اودقرب خلعتونه به دهغی پروړاندی وګوری.

پرتاسولازمه ده چی دراستانو په قوم باورولری اودوی تصدیق کړی. اوله تکذیب څخه ډډه وکړی اوددوی سره په منازعه اومجادله لاس پوری نکړی، ځکه دوی ددنیا سلاطین اودآخرت مردان دی، دوی دحق دقرب دولت ترلاسه کړی، زړونه یی له غیرخدای نه بیزاره دی، اودقرب اوانس له مراتبوډک، دحق دانوارپه کتوسره ټولی دنیا اوهرڅه چی په هغی کی دی بی اعتنا دی، هغه چاته چی دنیا یی په لاس کی ده اوګټه تری پورته کوی، پاملرنه نکوی. ددنیا پیل اوپای ته نګوری، بلکی دهغی عواقبو اوپایلو ته ګوری. تل خدای په نظرکی لری، داورله ویری اودجنت په طمع عبادت نکوی، دوی په زړونو دفرمانروایی لپاره پیداشوی، ځکه متعال خدای په هرکارچی اراده وفرمایی لاس بری دی.

منافق چی کله خبری کوی نودروغ وایی، هرکله که وعده وکړی نوخلاف کوی، اوهرکله که اعتمادپری وشو نو خیانت کوی. هرڅوک چی له دغودریو صفتونو چی رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) یی یادونه کړی ، لیری اوسی نوله نفاق اودوه مخی څخه لیری دی. دادری خصلتونه په حقیقت کی محک(تله) دی چی کولای شو دمنافق اومؤمن ترمنځ توپیرقایل شو. دامحک واخله اوداهنداره وغواړه اوخپل ځان پکی وګوره اووآزمایه، هغه وخت وګوره مومن یی که منافق؟ موحد یی که مشرک؟

ټوله دنیا فتنه ده اوبوختیا، پرته له هغه چا چی په نیک نیت اودآخرت لپاره هغی ته لاس وموممی، ځکه هروخت چی نیت صالح و، په دنیا کی تصرف دآخرت دتأمین لپاره نیک اومطلوب دی.

دحق دنعمتونه شکرانه اداء کړی. شکراوسپاس دوه ډوله دی: لومړی له دنیاڅخه دبنده ګی اواطاعت اودمسکینانوپه لاس نیوی کی وکاروی، دوهم: دبښونکی اومنعم باندی اقرار اودده داقدس ذات دشکراوسپاس پرځای کول.

یوه له بزرګانو(دخدای رحمت دی پری وی) ویلی : هرڅه چی تاله خدایه غافل، اودده ذکردی له یاده وباسی، هغه ستا په زیان اوضرردی، شوم دی اوکرغیرن دی. لمونځ، روژه،حج اونور اعمال چی دخدای له یاده پرته اودغفلت په حال کی ترسره شی، شوم اوستا پرزیان دی. هرکله که دخدای نعمتونه تاغافل کړی هغه هم شوم اوزیان راوړونکی دی. ته دخدای نعمت په معصیت سره تباه کوی، په کړو کی دی له ده پرته په نورو تکیه کوی، هماغه نفاق اودرواغ تل ستا په حرکاتو اوکړو کی، په ظاهراوباطن کی دی ځای پرځای شوی.

شیطان پرتا واکمن شوی، ناوړه اوکرغیرن کړه درته ښه ښکاروی. حتی په لمانځه کی هم تاته فریب درکوی. داسی چی کله الله اکبروایی نو په زړه کی دنورخدایان حضورلری. په هرڅه چی اعتماد اوباورکوی هغه ستا خدایان دی. ټول هغه شیان چی تری ویره اورجا لری ستا خدایان دی. وینا دی له زړه سره همغږی نده، کړه دی له وینا سره تناسب نلری. آیا شرم نلری چی په خوله لااله الاّ الله وایی او په زړه کی دی په زرګونه نورخدایان پراته دی؟ له دی ناوړه وضعیت نه راووزه اوخدای ته راوګرزه.

ای هغه چاچی دعلم زده کړه دوکړه، امایوازی په نوم اوعنوان یی بسنه کوی اوهیڅ عمل نه پری کوی، یوازی داوینا چی زه عالم یم، تاته څه ګټه دررسوی؟ درواغ وایی، څرنګه خوښ یی چی نورمعروف ته امرکوی اوخپله پری عمل نکوی؟ عزّوجلّ خدای فرمایی: (لِمَ تَقُولُونَ مَا لا تَفْعَلُونَ)-«ولی هغه څه وایی چی عمل نه پری کوی؟ سوره صف ایه ۲».

وای پرتا! خلک ریښتیاویلو ته رابولی اوخپله درواغ وایی، تاعلم ته خیانت کړی، اوامانت داری دی تباه شوی ده، دخدای پرنزد دی نوم دخیانت کارنوپه ډله کی ثبت شوی دی، ددی رنځ لپاره هیڅ داروشتون نلری، پرته له توبی اوخدای ته راګرځیدل اوپه هغی ټینګښت اوپایداری. هرڅوک چی په خدای عزّوجلّ ایمان ولری، نوخپلی ټولی چاری هغی ته پریږدی، اوپه هیڅ کارکی دهغی سره شریک نه نیسی. مخلوق اوظاهری سببونه دخدای سره انباز(شریک) نه

ګنی. هرکله که داکارچاته حاصل شو له بلاواوآفاتوبه ساتلی وی، اودایمان له مرحلی به دیقین مرحلی ته ورسیږی، اوپه تدریج به دولایت مقام اودابدال اوغیبت درجی اوپه پای کی به دقطب مرتبی ته ورسیږی. متعال خدای به دده په وجود سره دانس اوجن ترمنځ مباهات کوی، دی به مقدم ګنی اودخلکو لاربښوونه اوولایت به ورته وسپاری. دټولو مراتبو اومقاماتو بنسټ په خدای اودهغه په رسول کامل ایمان اودشرع اوامرو ترسره کول، اوپه قرآن خالصانه عمل کول دی.
ریښتینی مومن دخدای عزّوجلّ ماسوی له هرڅه بیزاره دی. تل دنفس سره په مجاهده اومبارزه کی وی اودخلکو سره په شخړه کی ترڅودوی دخدای لاری ته هدایت کړی. لوی خدای فرمایلی: (وَالَّذِيْنَ جَاهَدُوا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا)-« څوک چی زمونږ په لاره کی مجاهدت کوی، هغوی خپلی لاری ته هدایت کوو. سوره عنکبوت آیه ۶۹».
ددنیا له جلواتواوظواهروليری اوسی. دخدای دمقدراتوپروړاندی راضی اوتسلیم اوسی، ځکه هرکله که تسلیم شوی دالهی قدرت لاسونه به تاسو نیکیو اودخیرلوری ته متحول کړی. خوښی دی وی دهغه چا په حال چی دحق دمقدراتوسره موافق وی، دهغوی درارسیدو انتظارباسی، اوهیڅکله دمقدرنعمت کفران نکوی. دمقدرنعمت نښان دحق دقرب رحمت، اوله ټولو خلکو بی نیازی ده. هرکله که دبنده زړه له خدای سره وصل شو، دی ددنیا له ټولو خلکو بی نیازه کوی، اوځانته یی رانیږدی کوی، اوپه هکله یی داسی فرمایی: (اِنَّکَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَکِيْنٌ اَمِيْنٌ)-« نن ته زمونږ پروړاندی ځای اومکان لری اوپه امن کی یی. سوره یوسف آیه ۵۴».
دحق په بندګی اوطاعت کی سستی مه کوی، ځکه په عقوبت یی ګرفتاره کیږی. رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایی: (وَاِذَا قَصَّرَالْعَبْدُ فِی الْعَمَلِ ابْتِلاَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِالْهَمِّ)-« هرکله که بنده دعباداتوپه ترسره کولو کی قصوراوکوتاهی وکړی، خدای به هغه دغم اواندوه سره مخ کړی». هغه به په داسی غم ککړ کړی چی تصوریی هم نکوی، لکه دښځی اواولادونو له منځه تلل، دژوندانه دکټی لږوالی، داولادونو نافرمانی، دښځی عدم اطاعت، هرځای ته چی ګوری نو دهمداسی عقوبت سره به مخ وی، اوداټول په عباداتوکی په کوتاهی اودنیا ته په پاملرنه کی، ده ته مخ شوی. عزّوجلّ خدای فرمایی: (وَاِذَا قَصَّرَالْعَبْدُ فِی الْعَمَلِ ابْتِلاَهُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ بِالْهَمِّ)-« خدای دتاسو په عذاب پسی ندی، په هغه صورت کی چی مؤمن او شکرګزاره واوسی. سوره نساء آیه ۱۴۷».
روا نده چی هیڅ بنده دخدای دکړوپروړاندی دچون اوچرا(ولی اوڅرنګه) اظهاروکړی، ځکه متعال خدای په ټولو اموراتوکی متصرف او احکم الحاکمین دی.( لاَيَسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُوْنَ).
وای پرتا! ترڅو به تا نفس ،زن اوفرزند دخدای له یاده باسی؟ یوه له بزرګانوڅخه ویلی: هرکله که متوجه شوی چی زوی د دخرما دانه له ځمکی پورته کوی، هغه پریږده اوپه خدای مشغول شه، ځکه هرکله که یوه شو چی هغه دخرما دانه ارزښت اوبیه لری، پس کولای شی چی خپله دخپل نفس سره محاسبه وکړی اونورستا وخت ضایع نکړی. اولاد ته صنعت ورزده کړه اوخپله په خدای بوخت اوسه، زن اوفرزند دخدای پروړاندی هیڅ کارهم تاته نشی ترسره کولای. ځان، زن اوفرزند قناعت ته وګوماره، اومتباقی وخت په عبادت اوطاعت بوخت اوسه. هرکله که مقسومه روزی ستا نصیب شوی وی، پخپله ستا خواته راځی. پس مخلوق په هغی کی دخدای سره مه شریکوه. اوکه مقدره نه وی هیڅ شی نشی درته رسیدای، باید دطبع په استغنا اوقناعت سره ځان له ټولو بی نیازه وبولی.
قانع مومن هرکله چی کوم شی ته اړتیا پیداکړی، متضرعانه خدای ته رجوع کوی اوخپله اړتیا له هغی غواړی. که یی غوښتنه ومنله شویه نو شکر اوسپاس یی پرځای کوی. اوکه دحق اراده دهغه په نه کړو وه، پرته له اعتراضه اومنازعی، په صبر اوشکیبایی دخدای دغوښتنی سره موافقت کوی. بداینه ددین ریا اونفاق په وسیله نه غواړی، یعنی هغه دثروت دراټولولو لپاره نه کاروی، داسی ای منافقه چی ته کوی!!! یوه شه چی ریاء،نفاق اوګناه دذلت اوخواری اودحق له درګاه څخه دشړل کیدو سبب ګرځی. منافق اوریاکاره خلک دنیا دتقوی دلباس په اغوستلو سره لاسته

راوړی، ولی په واقعیت کی هیڅ هم نلری. قول اووینا دی د لااله الّا الله اوتوکل څخه ده، ولی دزړه اوباطن لیری والی ریښتنی شاهد دی ستا دوینا په دروغو.

ای دروغجنو، ریښتیا ته راواوړی. دحق ددرګاه له فراریانو څخه مخ واوړوی، اودصدق په نیت سره دخدای ددرګاه قصد وکړی، اودتقصیر عذریی پیشګاه ته وړاندی کړی. دحال په بدایت کی(ابتدایی ایمان) دشرعی مباح نعمتونو څخه استفاده وکړی، اودولایت په حال کی په خدایی څواک په تکیه ، سره له دووصادقو شاهدانو(کتاب اوسنت) له الهی مواهبوڅخه بهره مندشی،اودبدلیت اوقطبیت په حال کی دالله دفعل اومشیت سره متوسل شی اوهرڅه هغی ته پریږدی.

(ای دخدای بنده) آیا شرمنده نه یی؟ په خپل نفس وژاړه، چی صواب اوتوفیق دعبودیت دی پرځان حرام کړی، آیا شرمنده نه یی چی نن فرمانبرداره اوسبا عاصی ، نن مخلص اوسبا مشرک؟ پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَنْ اسْتَوی یَوْمَاهُ فَهُوَ مَغْبُونٌ،وَمَنْ کَانَ اَمْسُهُ خَیْراً منْ یَوْمِهِ فَهُوَ مَحْرُومٌ)-« دهرچا چی دوه ورځی یوشان وی، نودزیان اوغبن سره مخ دی، اودهرچا چی پرون له ننه ښه و، محروم دی».

(ای دخدای بنده) تودکوم شی موجد نه یی، اودحق دقدرت پروړاندی په تسلیم مجبوریی. ولی په دنیا کی له زیاراوکوښښ څخه مه لیری کیږه، اوله خدایه وغواړه چی تا ددی دریاب څخه درحمت په موجونو دامن اونجات ساحل ته وباسی. دعاله تا اوقبول یی له خدایه، کوشش اواجتهاد له تا اوتوفیق له خدایه، دمعاصیو ترک له تا اوساتنه له خدایه. دطلب اوغوښتنی په لاره کی صادق اوسه، دحق درګاه ته وګوره نووبه وینی چی دخدای لطف اوعنایت ستا غوښتونکی هم دی. دادراستانو دقوم وروستی آرزو ده.

زه به له تاسوسره څه وکړم؟ ای دنفس اوشهواتو اوشیطانی آرزوګانو بنده! زماسره پرته له حق، خلوص اوبی شائبی صفا څخه بل څه نشته. دغیرله خدای سره خپلی اړیکی پری کړی اوده ته راوګرځی.

ای دروغجنو، ای منافقینوو ای ددرواغو مدعیانو-یوه شی- چی ستاسوپروجود دهوی اوهوس غلبه ده چی دقبول وړنه ګرځی. تاسو له خپله ځانه نه شرمیږی، زه ولی له تاسو شرم ولرم. تاسو له خدایه شرم نکوی اوتل بی شرمی ته ورګرځی، اوپرځان موکلی فرشتی نادیده ګڼی. یوه شی چی زماسره داسی صداقت شتون لری چی دهغی پواسطه دهرکافراودروغجن منافق سر، چی خدای ته نه راګرځی اوتوبه نه باسی، پری کوم.

دبزرګانودقوم څخه یوه (دخدای رحمت دی پرده وی) فرمایلی: صدق اوراستی دخدای توری دی دځمکی پرمخ، دکوم شی په سرنه دریږی بلکه هغه غوڅوی. له ماڅخه دانصیحتونه واوری، زه ستاسو ناصح اودلسوزه یم، زه ستاسو په نزد مړ ولی دخدای پرنزد ژوندی یم. زه ستاسوپواسطه مړ اودحق په الطافوژوندی. هرڅوک چی زماوینا تصدیق کړی، ګټمن اورستګاربه شی، اوهرچاچی زه تکذیب کړم، په حال اوراتلونکی کی به دحرمان اونومیدی سره مخ وی.

دمعرفت دوسایلو څخه ، دچون اوچراپرینبول، اودخدای دغوښتنی پروناندی راضی کیدل دی. یدی هکله مالک بن دنیار(رحمت الله علیه) خپل یوه مرید ته داسی وویل: که دخدای دمعرفت غوښتونکی یی نو دخواست اوتقدیرسره یی راضی اوسه، نفس اودخپلی طبعی هوا دهغی سره مه شریکوه، ای تندرستانو! ای له حسنه افعالو فارغانو! څه شی تاسو له خپل پالونکی څخه غافله کړی یاست؟ که موزړونه له دی حاله خبرشای، نوپه ریښتینه به پښیمانه اودحسرت سره مخ شی.

(ای قومه) تاسوبه ژردمړیو له ډلی اواسی، په ځان وژاړی، مخکی له دی چی پرتاسو وژاړی. تاسو دډیروګناهونو درلودونکی، اودتیاره راتلونکی سره مخ یاست. زړونه مو ددنیا په حرص اوآزلړلی دی. هغه دزهد اوترک دنیا اوخدای ته دپاملرنی په دوا تداوی کړی. ستاسو پانګه ددین سلامتیا ،اوصالحه اعمال یی سود اوګټه ده. دهغه څه په

طلب کی مه اوسی چی تاسو طغیان ته رابولی، دکفایت په قدرقناعت وکړی. هوښیارسړی په هغه څه نه خوشحاله کیږی چی حال یی حساب لری اوعاقبت یی حرام، ستاسو ډیرغوښتنه دغه حساب اوعقاب ستاسو له یاده ایستلی.

(ای دخدای بنده) هرکله که دی ددینا دمال څخه کوم شی له ځان سره ولید اوزړه دی له هغی بیزاره و، هغه خوشی کړه. ولی افسوس ته دسالم زړه څښتن نه یی، دنفس اوشهواتو هوا پرتا مسلطه شوی. دصاحبدلانو سره کښینه ترڅو صاحبدل شی. ته بزرگوارحکیم په مصاحبت سره چی دخدای په اوامرو عامل وی، ملزم یی، ترڅوتاله ککړتیاپاک کړی، اندرزدرته درکړی اوعلم درزده کړی.

ای هغه چی هرڅومو په هیڅ پلورلی، اوهیڅ موپه هرڅه رانیولی، دیناموِ دآخرت په بیه رانیولی اوآخرت مو ددنیا په بیه پلورلی! ته په هوس کی هوس، عدم په عدم کی، جهل په جهل، دچارپایانو په ډولی، پرته له تحقیق اوڅیړنی، پرته له نیک نیته، اوپرته دحلالواوحرامو په بشپړه پیژندنه، خوری اوګټمن کیږی.

مومن له شرعی مباحاتوڅخه ګټه پورته کوی، اوله هغی په ګټه اخیستنه امرکوی، ولی زړه یی له هغی بیزاره وی. اوپه زړه څه نه سپاری اوپه خدای کی فانی وی، هیڅ اختیارنلری، ولی په هرحال کی دشرعی موازین رعایت کوی.

دفنا په حال کی دحق په دریاب کی غوټې وهی، دهغی مستی ځپی دهغی پوهه پورته وړی اوکله یی ټیټوی،کله یی ساحل ته رسوی اوکله یی په ګرداب کی غوطه کوی، کټ مټ داصحابوکهف په څیرچی خدای عزّوجلّ یی په هکله فرمایی: (وَنُقَلِّبُهُم ذَاتَ الْیَمِیْنِ وَ ذَاتَ الشِّمَالِ)-« هغوی ښی اوچپ لورته اړوو. سوره کهف آیه ۸۱».

دوی دعقل-لرحسابګر- تدبیراوحس درلودونکی ندی، بلکه دالهی قرب په لطف کی یی دظاهراوباطن سترګی پټی دی، همداسی چی مقرب سترګی اوزړه له هرڅه چی غیرله خدایه وی، تړی. نه ګوری الا دحق جلال اوعظمت ته،اوپرته له ده بله خبره نه اوری.

لویه خدایه ، مونږپرته له تانه له غیرو فانی کړی اوپه خپل ذات موبیرته ژوندی کړی. آمین!

**«وآتنا فی الدنیا حسنه وفی الآخره حسنه وقنا عذاب النار».**